آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۶/۲۱

لوحې او نسخې

د ټوپکي واکداری له رامنځ ته کیدو سره سم افغانستان په څو واکداریو و ویشل شو. ښارونه ولایتونه، وزارتونه ، معینیتونه، ریاستونه او مدیریتونه، بیا په بهر کي سفارتونه او نماینده ګیاني حتی د ښارونو ناحیي، سیمي او کوڅي هم و ویشل شوي او همدا اوس عملاً پر یادو څوکیو او مقامونو او لویو او وړو سیمو باندي ټوپکوال د خپل ټوپک د شپیلۍ د لویوالی او کوچنیوالي په اندازه، د خپل تنظیم، ډلي او طرز تفکر او قومنداني او شخصي اصولو په چوکاټ کي حکم چلوي.

یو واري ما د خپلو یاداشتونو په ترڅ کي په یوه مقاله کي لیکلي وو چي د جګړي له سونامي نه، نوري وړي او غټي سونامي ګاني را وزیږیدي چي د ټوپک د شپیلۍ له سُرکیدو او د ټوپک د قانون له حاکمیدو نه، بیا تر نن پوري؛ زموږ د ټولني په عملي ژوند، روح او روان باندي لکه خپسه پرتي دي او حکومت ورباندي کوي.

زموږ په وروسته پاتي وطن کي د دغو سونامي ګانو د نا خوالو تر څنګ، د غربي او امریکاي دیموکراسی په دایره کي هر چیري چي د هر چا زړه وشو، هر شی په هر ډول خط لیکي او د لوحو په نامه یي را ځروي، هر لوستی او نا لوستی کتنځی لري، مریضان معاینه کوي او د فالبینۍ، تعویز نویسۍ او دم و دُعا بازار ښه په کش کي دی؛ نه د پوښتني څوک شته، نه هم د اوریدني او نه هم د اصلاح کولو کوم تکل.

د همدغو ګډوډیو په سلسله کي، د ټوپکي واکداری له رامنځ ته کیدو نه را په دي خوا د ټول هیواد او ټولو ښارونو په بیلابیلو سیمو کي د رنګارنګ لوحو لیکل او را ځروول او د ناروغانو د رغولو په پلمه عجیب آدرسونه رامنځ ته شوي دي.

څنګه چي تاریخ د دي ایله جاریانو په اداره او حکمتولي پوري خاندي، دغسي زموږ د وطن د بیلابیلو ژبو، ژبپوهان او د سواد او زدکړي خاوندان د دغو لوحو پر جوړښت، ګرامر او ماناوو باندي د طنز په ډول هم ژاړي هم ورته خاندي. په خواشینۍ سره چي دا هم زموږ په وروسته پاتي ټولنه کي، د دیموکراسی او د بیان د آزادۍ د نیالګي یو ثمر دی، چي نن مو لوحي، نسخي او د فکرونو کتابونه داسي بد حال لري.

همدا نن(۲۰۱۶ کال د جون ۲۱ مه) مي چي لا دا مقاله بشپړه کړي نه وه چي د ښاغلي بهیج عثماني په فیسبوک پاڼه کي زما تر بحث لاندي موضوع سره اړوند او زما د خبرو په تایید، د یو شکایت او حکایت غږ اوچت شو. لینک یي همدلته شته، که یي څوک د لیدلو هیله لري، دلته دي کلیک وکړي،

د لیکني بشپړ متن او د درملو او نسخي عکسونه هم لیدلای شي. دا د بهیج عثماني د لیکني متن دی، واک د تاسو چي ګیله له چا نه کوئ:

«دا د یوي نسخي درمل دي او دا ډاکتر هم کوم عادي ډاکتر نه دی. د کابل طبي پوهنتون لوی استاد دي. تر هغو چي په افغانستان کي د درملني دغه حال وي زموږ ناروغان به مجبور وي چي پاکستان ته ولاړ شي او هلته هم په پخه چاره حلال شي. د افغانستان روغتیایي سیستم په یوه ناورین بدل شوی دی»

زه فکر کوم چي د ځینو ډاکترانو نسخي او توصیه کړي درمل د «آغای جن ګیر، آتش خور و مار ګیر» نه هم بد تره په دي دي چي «آغای جن ګیر» زار او مار دواړه خپله خوري خو ځیني زدکړي ډاکتران یي په مریض باندي خوري. دلته ده چي باید پوه شو چي ګناه زموږ خپله ده چي سم ډاکتر، سم روغتون او سم درملتون نه لرو ، دا په دي چي موږ سم تعلیم نه لرو.

له اول نفر نه نیولي بیا تر آخره پوري، له بیسواده نیولي بیا تر سواد والا پوري له مسول نه نیولي بیا تر غیر مسول پوري له ... نه نیولي تر ... پوري د همدي لومي په ستونزو کي نښتي دي او اوس باید په دي بیا او بیا ټینګار وشي چي دا په لومړي ګام کي زموږ خپله ګناه او مسولیت دی چي تعلیم نه لرو او د نورو په وړاندیز او اشاره له تعلیم، تحصیل، ښوني روزني، ښونځي، پوهنځي او علم نه تښتو، او کله چي تعلیم و نه لرو، نو په څه نه پوهیږو او کله چي په څه پوه نه شوو، نو جلب مو، واک مو د نورو په لاس کي وي، هغوی مو لکه «څلوربول» په هر لوري چي کشکاري، ور سره ځو به، لکه همدا اوس.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

موږ یو وخت د درمل جوړولو ستندر، لویه او ښه فابریکه درلوده، د کابل په صنعتي پارک کې یې موقعیت درلود، د اروپا په ستندر سیستم یې درمل جوړول، دا فابریکه هوخست نومیده چې د جرمنانو په مرسته جوړه شوې او د دواړو هیوادونو ګډ سهامي شرکت و، خو موږ د خپلې نا پوهۍ په پایله کې د بهرنیو استخباراتو په لارښوونه په خپلو لاسو ورانه کړه او بیا مو اور ور ته واچاوه؛ او پایله یې دا شوه چې نن له یوې خوا د خپلې نا پوهۍ په اور کې سوځو، او له بل لوري هماغه خلک په پاکټونو کې د درملو په نامه د خپل وطن ختې په موږ باندې خرڅوي. هغوی دیرش میلونه بې تعلیمه مزدوران او غلامان غواړي او دا زمینه موږ خپله ور ته برابروو چې په نسلونو نسلونو د هغوی مزدورۍ او تولیداتو ته سترګې په لاره اوسو.

ښاغلي نعمان دوست د ۲۰۱۶ کال د مارچ په شلمه په خپله فیسبوک پاڼه کې لکه تل ډیر لنډ، خو ډیر با مانا د لوحو او اشتهاراتو په باب داسې لیکلي وو:

«څو لوحو او شتهاراتو ته تم شوم، لیکل شوي وو:

نوروز حرام!

داسې لوحه او اشتهار مې تر سترګو نه شو چې لیکلي واي:

د مسلمان وینه تویول حرام!

زما مسلمانه ټولنه»

مثالونه او خبرې ډیرې دي:

«خنده تلخ من از گریه غم انگیز تر است
کـارم از گـریه گذشت بـــدان مـیـخنــدم»

دا لوحې او دا نسخې چې د هر چا له لوري لیکل کیږي، ځړول کیږي او په میډیا کې خپریږي، ټولې د خلکو د غولو له پاره دي، عاملین یې خپل جبونه ډکوي، د ژوند په بیه یې خلک پور پرې کوي او دا ټول په خپله د خلکو د نه زدکړې او نا پوهۍ پایله ده، نو له دې نه د خلاصون اصلي لاره، د خلکو د پوهې د کچې لوړول دي، تعلیم، ښونځی او پوهنځی مخه کول دي. او په دې ډول کیدای شي زموږ د تاریخ پر ستیژ باندې د دغې کومیکې تراژیکې ډرامې نمایش ته د پای ټکی کیښودل شي.

دا لوحې او دا نسخې چې چې پاس لنډې خبرې پرې وشوې، اوس د یوه ناسور زخم په ټوګه زموږ د ټولنې پر بدن باندې شته والی لري او زموږ د ټولنې او خلکو پر اوږو د یوه اضافي پیټي په ډول بار دي، نمونې یې بیخي ډیرې دي، زه یې دلته څو بیلګې وړاندې کوم:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



دوکتور «مومن» اندر

متخصص جراحی عمومی وجراحی اطفال وسؤاشکال ولادی اطفال

عملیات دماغ ، ستون فقرات ، گرده ، مثانه ، بواصیر ، چره جگر

اطفال کر ، کور ، گنگه ، واطفال هزك که دربین مرد وزن باشد

معالج امراض داخله واعصاب

توجه کنید دوستان ! از همان ملا های جرگه ای دیگر فریبکار

Clinical Record

Rx

Br

C.T-Scan

For physical nerve

or Atrophy

Br

حضوراً مرکز هم تکلیف برخوانید ایا ملا ی

با احترام

0772787245

آدرس:شهر کابل خوشحال خان مینه قلعه وزیر در اوقات رسمیات لطفا در شفاخانه انا ترک کابل مراجعه نمایید



مولوی صاحب مطیع الله بن حکیم مولوي عزیز گل

ماهر امراض بې اولادي،مردانه کمزوري،میرګي جن وغیره

تعویزات مشروعه دخلاف شریعت تعویزونو خخه معزورت غواړو

0771061709--0771957450

نوم: _____ تاریخ: _____

ثبت تیگامیت 400 ملي 2x10 صبح وشام

کپسول رائزک 40 ملي 14 ماښام یو

ثبت تگمریتول 50 50 صبح وشام

ثبت دمپریل 30 ملي 30 دشپې یو

پته:لکې ذوکوخېل ددوکوخېلو دسراج الاسلام مدرسې جنوب خېژ لورته دمولوي صاحب کور

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا لړلی هغه وخت پای ته رسیدلای شي او دا کړی هغه وخت ماتیدلای شي چې تعلیم عام شي!!!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ